عبدالغفور لېوال

۲۰۲۲/۱۲/۲۴

# اوس باید څه وشي؟

د روښانتیا او ویښتیا لپاره چې هرڅه ولیکم، ځیني دوستان مې وپوښتي، حللاره وښیه!
چې حللار وښیم، ټول غلي شي او د راوړاندې کېدو جرئت د مرغی پی شي.
له سیاسته یې تېر، راځئ یوه فرهنګي حللاره وڅېړو او وګورو څوک به ورته رامخکي شي؟
ټول کورمیشتي او بهر میشتي افغانان، چې له زدکړو د خپلو بچیو پر پاتېدا ژاړي او هغوی، چې خواخوږي کوي، که لاس سره یو کړو، نو ځایناستې (بدیلې) لارې یې موندلای شو.
راځئ لاس په کارشو او نړۍ راوننګوو، یونیسکو، یونیسیف، ټول ملګري ملتونه، د زدکړو نور نړیوال بنسټونه او مرستندویان له ګریوانه راونیسو او دا دوه طرحې عملي کړو. بشري، مدیریتي او اکاډمیک ظرفیتونه خپل لرو، په مالي او تخنیکي برخه کې به نړیوال مرسته وکړي.

**اول:**

د افغان نجونو او هلکانو لپاره باید یوه نړیواله برېښنایي پراخه شبکه (انلاین ښوونځي او پوهنځي) جوړه کړو، چې له لومړي ټولګي تر دولسم او بیا په ټولو پوهنتوني څانګو کې افغان پېغلو او زلمیو ته وړیا درس ورکړي. نجونو او هلکانو ته مې ځکه وویل، چې په افغانستان کې نور نو د هیچا لپاره زدکړې نه شته، ځکه هغه بدلونونه چې په نصاب کې راروان دي، یوازې نجونې نه، بلکې هلکان هم له زدکړو شړي.
وړیا د زدکوونکیو او محصلینو لپاره، نه د استادانو او کارکوونکیو لپاره. په دې ورځو کې مې د ځینو کسانو ژمني ولوستې، چې حاضر دي وړیا انلاین درس ورکړي، د دوی دې کور ودان وي، باید مننه ترې وکړو، خو پوهېږو، چې هریو کورنۍ لري، موږ باید داسې یوه لویه ملي پروژه طرحه کړو، چې په هغه کې په زرګونو استادان درس ورکړي او معاش ولري او میلیونونو زدکوونکیو او محصلینو ته داسې منظم درس ورکړي، چې د فراغت اسناد او دیپلومونه یې معتبر او پر نړیوال کچ د پېژندو وړ وي.
د دې طرحې جزئیات بل ځای غواړي او دلته یې شرحه ناشوني ده. د مدیریت لپاره یې د تېرو لسیزو فساد ته په کتو، که پر خپلو افغانانو باور کړلای نه شو، نو ښایي د یونیسکو، یونیسیف او نورو نړیوالو سازمانونو یوه کومېټه یې روڼتیا وڅاري یا یې حتی مدیریت کړي.

**دویم:**

موږ له رسنیز سقوط څخه هم کړېږو. افغانان اوس هېڅ ملي - افغاني رسنی نه لري، چې د (افغان او افغانستان) غږ پورته کړلای شي. پخوانی رسنی یا د ترهګرو تر اغېز لاندې راغلي، یا د پردیو په اشارو قومي شخړو ته لمن وهي او یا دومره کمزورې دي، چې شتون یې نه حس کیږي. (څو سالمې رسنی به هم وي، خو اغېزمنتیا یې په هېڅ شمار ده) بهر میشتي افغانان که وکړلای شي یوه ملي - افغاني رسنیزه ټولګه (تلویزیون، راډیو، چاپي او انلاین) جوړه کړي، چې په نړیوال کچ د افغانستان د خلکو غږ پخپله دوی او نړیوالو ته ورسوي، زه باور لرم، چې له اغېزه به یې ملت په شعوري ویښتیا ځان له اوسمهالي ناورین څخه هم وباسي.
د دې لپاره هم عملي جزئیات شته، که افغانانو یې عملي کېدو ته لاسونه بډوهل ورسره شریک به شي:
راځئ!
که ترهګر راپرځولای نه شئ، پر خپل هېڅ افغان خواخوږي باور کولای نه شئ، نو لږ تر لږه د خپلو بچو لپاره د زدکړو او د خپلو غږونو د رسولو لپاره خو پر دغو طرحو عمل وکړئ!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ